مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

اکبر بری ۲۰۲۰/۰۳/۰۳

# شاعـــر تـــه

تـنــهـا يــوازې پـه نـيـمو شپو کې
سر يـې پـه ورکو، لاروکــوڅوکې

نــه دې آرام شته، نــه دې کــرارشته
شيـبـې دې ډوبې، خــروار غـمـوکې

لـه زړه دې ښــاخي، پـه هر ګام وينه
ټـول ځان دې سوځی، سوی لـمبو کې

هــره خـوا دورمې، هــره خـوا ګورې
سـتـرګي بــېـتـابــه، ورک پـه فکروکې

يـــه لالـــهـــانـــده، خـــواره شـاعـره
يـــه ډوب پـــه لـتـه، پـــه انديښنوکې

څـــه پسی ګــرځې، څـــه لـټـوې تـــه؟
څـه درنـه ورک دې، پـه نيمو شپو کې؟

پـــه دې نامـرده، زوی مـړي ښار کــې
دغـو مـيــراتـو، ورانــو کــوڅــو کې

چــا پــه رڼــا ورځ څـه ميـنده نه کړه
تــه بــه څـــه مـومـــې تـپـو تـيـاروکې؟




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ